پوهندوی آصف بهاند

# ماشوم پلورنه، له ماشومانو سره د تاوتریخوالي نوی ډول

## د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتریخوالي سونامي

## اوه دېرشمه برخه

زموږ د هېواد په لنډ تېر تاریخ کې، زموږ پر ټولنه باندې د رنګارنګ بادونو د را الوتلو په وجه، زموږ خلک له داسې ناخوالو سره مخ شوي دي چې بېلګې يې ښايي د ډېری هېوادو په تاریخ کې نه وي تکرار شوې.

د دې ناخوالو يو دردونکې بېلګه د ډېر فقر په وجه د ماشومانو او کوچنیانو پېرل يا خرڅول دي. هېڅوک له هوس نه خپل اولاد د پیسو په بدل کې بل چا ته نه ورکوي. اوس پر افغانستان او افغانانو باندې داسې يو حالت راغلی دی چې خبره يو ځل بیا د ماشومانو د پېر او پلور برید ته رسېدلې ده.

له بده شامته چې يو ځل بیا مې په میډیا کې داسې څه ترسترګو شول چې د نه منلو وړ راته ښکارېدل، خو دا يو تریخ حقیقت دی چې همدا اوس زموږ پر خلکو راغلی دی. دې رپوټ ته پاملرنه وکړئ:«

د بېوزلی له کبله یوې مور خپل ماشوم خرڅ کړی

کابل کې د یوې بېځایه شوې کورنۍ مور، د اقتصادي ستونزو له امله خپل یو نیم کلن ماشوم خرڅ کړی دی او وايي دا کار يې ځکه وکړ، چې په روغتون کې د خپلې بلې بستر شوې او ناروغې لور ژوند پرې وژغوري.

د لیلما په نامه د اتو ماشومانو مور له بغلانه کابل ته کډه شوې او وايي، له یوه کال راهیسې يې خاوند لادرکه دی او اوس د یوې ۱۳ کلنې لور د درملنې لپاره اړه شوې چې، خپل یو نیم کلن ماشوم وپلوري.
مېرمن لیلما وایلي: "له مجبورۍ مې خپل ماشوم په ۳۰ زره افغانۍ خرڅ کړ. که نه نو هېڅ څوک نه غواړي خپل ماشوم خرڅ کړي" .

بېځایه شوي وايي، دمګړۍ له ګڼو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان دي او په وینا يې د هوا سړېدو او ورښتونو د دوی ستونزې دوه برابره کړې دي.

یوې بېځایه شوې زرغونې ویلي: "کله چې باران وشو، ټول ځایونه لانده شول، ماشومان ناروغان شوي او موږ خپله هم خوب نه لرو" .

بېځایه شوي زیاتوي، لا تر اوسه له دوی سره د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت هېڅ مرسته نه ده کړې.

د عایشې په نامه یوې بېځایه شوې ویلي: "د کډوالو وزارت راغی سروې يې وکړه، خو تراوسه يې مرسته نه ده کړې. که همداسې وي، نو موږ به له منځه لاړ شو" .

له څه باندې دوو میاشتو راهیسې د ځینو ولایتونو یو شمېر اوسېدونکې کابل ته په کډه راغلي او دمګړۍ په کېږدیو کې په ډېرو سختو شرایطو کې شپې او ورځې تېروي.»

په افغانستان کې د نويو سیاسي ــ نظامي بدلونونو په پايه کې د رامنځته شوو ستونزو په ترڅ یوه هم د لوږې ستونزه ده. لوږه داسې ستونزه ده چې د ډېرو خلکو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړی دی. همدا د لوږې سونامي هم خلک دې ته اړباسي چې له خپلو ګلالیو ماشومانو او کوچنیانو لاس پر سر شي یا یې خرڅلاو ته وړاندې کړي او یا یې هسې چا ته د دې له پاره وسپاري چې له لوږې نه مړ نه شي. د امریکا غږ دغه لنډ او دردونکې رپوټ ته پام وکړئ:

«سرچینې: په افغانستان کې ماشومان له لوږې مړه شوي



**له هغه وروسته چې ملګرو ملتونو خبرداری ورکړ چې میلیونونه افغان ماشومانو د خوارځواکۍ (سوی تغذيي) له ګواښ سره مخامخ دي، نن شنبه اکتوبر دویمه (تلې۱۰) محلي او نړیوالو ادارو ویلي چې په افغانستان کې ماشومان له لوږې مري.**

د غور په ولایت کې د طالبانو د حکومت د عامې روغتیا مشر ملا محمد احمدي د فرانسې خبري اژانس ته ویلي دي چې په تېرو شپږو اوونیو کې ۱۷ ماشومان، چې د خوارځواکۍ له کبله روغتون کې بستر وو، مړه شوي دي.

ښاغلي احمدي وویل چې شاوخوا ۳۰۰ نور ماشومانو د لوږې له لاسه په بېلابېلو رنځونو اخته او په روغتونونو کې بستر دي او همدغه راز د افغانستان په نورو برخو کې هم سلګونه ماشومان له دغه وضعیت سره مخامخ دي.

د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو د وجهي صندوق (یونیسف) یو ویاند سلام الجنابي وویل چې د غور په ولایت کې د خوارځواکۍ له کبله د ماشومانو دغه مړینې تائیدولای نشي، مګر د روان بد وضعیت بیه ماشومان پرې کوي.

نوموړي وویل چې یونیسف خبر دی چې افغان ماشومان له لوږی سره مخامخ دي.
افغانستان تر دې مخکې هم له یو لړ ستونزو سره مخامخ و، خو د اګست په ۱۵ د طالبانو له راتګ وروسته اقتصادي بحران نور هم زیات شو.

له افغانستان سره نړیوالې بشري مرستې کمې شوې، وچکالي او بیکاري زیاته شوې ده او تر څنګ يې خوراکي مواد هم قیمت شوي دي.

ملګرو ملتونو خبرداری ورکړی دی چې د روان کال تر پای پورې به نژدې یو میلیون افغان ماشومان د خوارځواکۍ له جدي ستونزو سره مخامخیږي، په داسې حال کې چې ۳.۳میلیون نور وار دمخه له دغې صحي ستونزې کړیږي.

د خوړو نړیوال سازمان وايي چې د ۲۰۲۱ تر پای پورې په افغانستان کې اړمنو خلکو ته د خوراکي موادو د رسولو لپاره ۲۰۰ میلیون او د ۲۰۲۲ لومړیو دریو میاشتو کې ۳۰۰ میلیون ډالرو ته اړتیا ده.
ملګري ملتونه وايي دا مهال د افغانستان شاوخوا ۱۸میلیون وګړي بشري مرستو ته جدي اړتیا لري.»

ما (آصف بهاند) د ۲۰۱۸ ام کال د نومبر په میاشت کې هم د ماشوم پلورنې د غمیزې په باب یوه مقاله خپره کړې ده، د مقالې سر لیک دا دی: **«قیمتي جامې او وږي نسونه، ماشوم پلورنه، د یوې غمیزې دوام»**
د یادې مقالې په یوه برخه کې ما داسې لیکلي و:

«تاند» په یوه نوي رپوټ کې د یوې بلې غمیزې یادونه کړې ده. دا ځل د طبیعت قهر او جبر دی او دا قهر او جبر چې د «اشرف المخلوقات» له ظلمونو سره یو ځای شي، بله بلا ورنه جوړیږي، داسې بلا چې لیدل خو يې لا څه کوې چې لوستل يې هم د انسان پر بدن ویښته سیخوي. دا څو جملې د تاند د راپور یوه برخه ده:

**«سي این این تلویزیون په هرات کې د وچکالۍ له کبله د بادغیس له ګنو بې ځایه شویو کورنیو سره خبرې کړې دي.**

**د هغوی په منځ کې یوه هم اکیله (عاقله) ده چې یوه سړي د خپل لس کلن زوی لپاره په ۳ زره ډالره اخیستې ده.**

**د نیویارک پوسټ ورځپاڼې د راپور له مخې، د بادغیس د بې ځایه شویو په منځ کې یوې بلې مور خپله ۴ کلنه لور پر یوه ۲۰ کلن سړي د دې لپاره پلورلې چې پور پرې کړي.**

**خو د اکیلې مور مرمرینه وايي چې د خپل زره ټوټه پلوري.**

**مرمرینه وايي، لورکۍ يې نه پوهیږي چې پلورل شوې ده:**

**«دا په ځان خبره نه ده ، څنګه به پوی شي؟ دا ماشومه ده. خو ما بله چاره نه لرله. که ژاړي یا خاندي، باید لاړه شي. څوک به د خپل زړه ټوټه وپلوري مګر دا چې ناچاره وي؟»**

دا پاسنۍ څو جملې د زړه سوی له بریده وړاندې، اور را اچوي، لمبه کوي مې او زه يې د افغان غمیزې یو بل څېرکی ګڼم. په اوسني وخت کې يې د نورو پیغورونو او تورو داغونو تر څنګ یو لوی پیغور او تور داغ څکه ګڼم چې:

**ــ د یویشتمې پیړۍ په ۲۰۱۸ کال کې مور نه یو توانیدلي چې حد اقل د خلکو نسونه ماړه کړو،**

**ــ دولتي واکداران مو، دهمدې وږو له پاره په رالېږل شوو پیسو داسې جامې او موټر اخلي او کاروي يې چې خیرات ورکونکو لا په خوب کې هم نه دي لیدلي،**

**ــ او...»**

د پاسنۍ مقالې د خپرېدو له نېټې نه بیا تر نن پورې نه یوازې د دې ستونزې (ماشوم پلورنه) د حل له پاره مورږ څه نه دي کړي، بلکې حالات داسې راوستل شوي چې دا ستونزې نوره هم شایع شي دا دی اوس هم بیا ـ بیا زمورږ ترسترګو وړاندې تکرارېږي او مورږ هم رنې ـ رنې ورته ګورو.

خلک د همدې لوږې او ناروغتیاوو له پاره اړ شوي چې د ځینو ماشومانو او کوچنیانو خرڅلاو ته مخه کړي او د دې ټول ستونزو په لړ اصلي متضررین ماشومان او کوچنیان دي چې یا پلورل کېږي، یا د خوراکي توکو د نشتوالي په وجه له خوارځواکۍ سره مخ کېږي او یا شاقه کارونو ته اړ ایستل کېږي. د شاقه کارونو یوه مستنده بېلګه یې دا ده:

د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر پر څلورمه نېټه بي بي سي پښتو د **«افغانستان کې پر ماشومانو د بېوزلۍ اغېز»** تر سرلیک لاندې یو ویدیو ریپوټ خپور کړ، په دې ریپوټ کې په مستند ډول لیدل کېږي چې په تورخم کې څنګه له افغان کوچنیانو سره تاوتریخوالي کېږي. افغان کوچنی د یوې مړۍ ډوډۍ پیدا کولو په موخه اړ دی چې د خپل ځواک په اندازه یوه وړه ګنډه د برید تر کرښې واړي هغه هم داسې چې کېدای شي د ژوند په بیه یې تمام شي، ځکه کوچنی له ګنډې سره تر لارۍ موټر لاندې ننوزي او ځان ورپورې دومره موده ځړوي یا هلته ځان پټوي چې د برید تر کرښې واوړي، دا د یادې ویدیو لینک دی، درانه لوستونکي کولای شي په یو وار کلیک کولو سره یې پرانېزي او ویدیو وګوري:

https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-58791398

انسانان پلور او پېر ته وړاندې کول، د مربتوب د دورو دود و، په اوسني وخت کې چې ماشومان ـ کوچنیان چې د هرې اړتیا یا مجبوریت له مخې خرڅ شوي دي، داسې یې وګڼئ چې له همدا اوسه د هغه یا هغې غاړې ته د غلامۍ کړۍ ور واچول شوه، او دا خرڅ شوي ماشومان او کوچنیان به ټول عمر له دې پېغور سره مخ وي چې خپل مور پلار خرڅ کړي دي. دا په اوسني وخت کې له ماشومانو او کوچنیانوسره ستره جفا، د تاوتریخوالي نوی او شرمونکی ډول ګڼل کېږي.



زمورږ پر ذهن او عمل باندې د څو پخوانیو پېریو نظریات او اعمال حاکم دي.